جمهوری اسلامی افغانستان
دفتر مشترک تنظیم انتخابات

دافغانستان اسلامي جمهوريت
دانتخاباتو دتنظيم ګډ دفتر

Islamic Republic of Afghanistan
Joint Electoral Management Body

JEMB

.

**مطبوعاتي خبر**
۱۰ غوايي، ۱۳۸٤

د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د څوکيو ويش

د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر د افغانستان د حکومت د احصايې د مرکزي دفتر له خوا د نفوسو د وړاندې شويو شمېرو پر بنسټ، د ملي شورا د ولسي جرګې لپاره د افغانستان د ټولو ۳٤ ولايتونو تر منځ څوکۍ ويشلې دي.

د ولسي جرګې د ۲٤۹ څوکيو او د ولايتي شوراګانو لپاره به په ټولو ولايتونو کې د ۱۳۸٤ کال د وږي په ۲۷مه نېټه ټاکنې تر سره شي، چې هر ولايت به د ولسي جرګې يوه ټاکنېزه حوزه وي.

د ټاکنو د قانون له مخې کوم چې د ولسمشر د چهار شنبې د ورځې د غوايي د ۷مې نېټې د فرمان په اساس وضعه شوی د ولسي جرګې له ۲٤۹ څوکيو څخه (۱۰) لس څوکۍ د کوچيانو لپاره بېلې شوې دي.

پاتې ۲۳۹ څوکۍ د ولايتونو تر منځ دټاکنو د قانون د شرايطو سره سم، چې څوکۍ بايد د هر ولايت د نفوسو د شمېر په تناسب او دا چې هر ولايت ته لږ تر لږه دوه څوکۍ ورسپېرې، ويشل شوې دي.

د ټاکنو د قانون سره سم ولايتونو ته د ولسي جرګې څوکۍ له لاندې لارې څخه بېلې شوې دي:
الف.  د ولايتونو د ټول نفوس شمېر د ولايتونو لپاره د بېلو شويو څوکيو پر شمېر (۲۳۹) ويشل شوی، څو د يوې څوکۍ لپاره بېله شوې ونډه وټاکل شي؛
ب.  د هر ولايت د نفوسو شمېر د يوې څوکۍ لپاره بېلې شوې ونډې باندې ويشل شوی دی.

په ولسي جرګه کې د ښځو استازيتوب د يو شمېر ساتل شويو څوکيو له لارې تضمين شوی دی.

د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر رئيس، بسم الله بسمل وويل چې " هغو ولايتونو ته چې نفوس يې زيات دی د ولسي جرګې زيات شمېر څوکۍ او هغو ولايتونو ته چې نفوس يې لږ دی کم شمېر څوکۍ بېلې شوې دي"

د هرې ولايتي شورا لپاره د څوکيو شمېر هم د اړوند ولايت د نفوس پر بنسټ ټاکل شوی. د ټاکنو د قانون له مخې، په هره ولايتي شورا کې د څوکيو لږ تر لږه څلورمه برخه به د ښځينه کانديدانو لپاره بېلې کړای شي.

د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر رئیس زیاته کړه ''زه هغه افغانان چې غواړي د ولسي جرګې یا ولایتي شورا په ټاکنو کې سیالي وکړي هڅوم چې په دریو راتلونکو اونیو کې چې د غوایي له ۱۰مې پیلیږي، خپل ځانونه د کاندیدانو په توګه ونوموي''.

لیوال کاندیدان د غوایې تر ۲۹مې نېټې کولی شي چې د خپلو ملاتړو معلومات (نومونه، لاسلیکونه او د نوم لیکنې دکارټ شمېرې) راټول او د کاندیدانو د نومونې هغه ولایتي دفتر ته یې وسپاري چې غواړي ورڅخه استازیتوب وکړي.

د لازیاتو مالوماتو لپاره هیله ده چې زمونږ له ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ: **www.jemb.org** او یا له لاندې کسانو سره اړیکې ټینګې کړئ:

د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر نړیوال ویاند
براوین کورن: **bronwync@unops.org.af 079 295 876**

د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء د خبري رسنیو د اړیکو مامور
ایکوت تاوسیل: **tavsela@unops.org.af 070 164 512**